محمد معصوم هوتک

۲۰۱۸/۱۲/۱۳

# یو نومورکی پښتو تجوید

تجوید یوه پوهنه ده چي په هغې کي د قرآن عظیم الشان د سم تلاوت کولو لاري چاري او د هر توري د ادا کولو مخرجونه او صفتونه پکښې بیان سوي وي. دغه راز پوهني ته نني ژبپوهان ږغپوهنه یافونولوژي (Phonology) وایي.

په عربي ژبه کي لومړی معلوم سړی چي د تجوید په باب ئې لیکني کړي دي، خلیل بن احمد فراهیدي (۷۱۸ ـ ۷۹۱) دئ. په پښتو ژبه کي تجوید لیکنه څه د پاسه څلور سوه کلنه سابقه لري او لومړنی معلوم سړی چي په پښتو ژبه ئې پر تجوید باندي لیکنه کړې ده، اخوند درویزه ننگرهاری (۱۰۲۸هـ ق مړ) دئ. د اخوند درویزه پښتو تجوید (مخارج الحروف) نومېږي او د ده د مشهور او مقبول اثر مخزن الاسلام دریم فصل د تجوید همدا منظومه رساله ده. تر اخوند درویزه وروسته د ملا شیرمحمد هوتک تجویدالافغاني موږ ته معلوم دئ چي دا هم په نظم لیکل سوی او له اسرارالعارفین سره یوځای چاپ سوی دئ. د تجوید لیکني دود نورو پښتنو عالمانو هم پاللی دئ او ماته تر شلو زیات پښتو تجویدونه معلوم دي چي په نظم و نثر لیکل سوي او زیاتره ئې چاپ سوي هم دي.

د سږ کال (۲۰۱۸ع) په اپریل کي ویرجینیا ته د یوه سفر په ترڅ کي زما محترم دوست او اشنا ښاغلي عبدالباري جهاني له خپل کتابتون څخه د پښتو یوه زړه نسخه د کتلو له پاره زما استوګنځي ته راوړه. دا نسخه ما کاناډا ته راسره راوړه او تر کتلو وروسته راته څرګنده سوه چي دا د پښتو تجوید یوه نومورکې رساله ده چي په نظم او نثر دواړو لیکل سوې ده. لومړی یو مطلب په نظم بیانوي، بیا ئې په نثر تشریح کوي. د پښتوتجویدونوپه لړ کي دا لومړی اثر دئ چي په لیکلو کي ئې له نظم او نثر دواړو څخه کار اخیستل سوی دئ.

## دا رساله به زه ددې لیکني درنو لوستونکو ته وروپېژنم:

دا نسخه لویه نیم تخته یي قطع لري او پر ژیړ کاغذ په توره سیاهي لیکل سوې ده خو د متن ځیني توري، کلمات او نومونه ئې په سره رنګ کښلي دي. خط ئې نسخ دئ. لیکدود او املا ئې دواړه ګډوډ دي او دې ګډوډۍ ئې لوستل یو څه سخت کړي دي. که څوک د تجوید په مصطلحاتو ونه پوهېږي، مطلب ځني اخیستلای نه سي. (ځ) او (څ) دواړي د (څ) په شکل کاږي. د (ښ) پر ځای کله کله (خ) لیکي. د اضافت دال ته (هـ) ورکوي. دغه راز د زوَر( فتحه) پر ځای (هـ) او د پېښ (ضمه) پر ځای (و) کاږي. د متن هر مخ ئې په دوو غبرګو چوکاټو کي نیولی دئ. د متن سرلیکونه او د هر مبحث په پیل کي دوه بیتونه ئې هم چوکاټونه لري .نسخه ته ئې منظم رکابونه ورکړي دي او د سر او پای دسپینومخونو په ګډون ئې د پاڼو شمېر اته دېرش دئ چي شپږ اویا مخه کېږي. د نسخې له ګنډلو او نورو نښو نښانو څخه داسي ښکاري چي نسخه ترمیم سوې او په مصنوعي توګه زړه سوې ده. پاڼو څنډي ئې د زړتابه ښوولو په نیامت سوځول سوي دي.وقایې ته ئې د زاړه ټوکرپوښ ورکول سوی دئ. له دې نسخې سره په سر کي یوه بله منظومه رساله هم ګنډل سوې ده او تر دغي منظومي رسالې دمخه په پښتو ژبه د نظم او نثر څو مخه سته چي بېلابېلي موضوعګاني پکښې بیان سوي دي. ددې دواړو برخو پېژندنه به بل وخت ته پرېږدم.

د تجوید د همدې رسالې د لیکوال ( محرر) نوم ښوول سوی نه دئ خو دونده (دومره) قدر وایي چي د" کوهستان" د " شهور" اوسېدونکی دئ . دده خپله وینا چي د رسالې په پای کي ئې راوړې ده،داسي ده:

محــــــرر د کـــــوهستان دئ — په شـــهور کي ئې مکان دئ
له آخـــــــره ده لـــــــړزانه — ته ئې وســــــــاتې رحمـانه
مــور و پـلار چي دده ځان دي — نور چي څه کل مـؤمنان دي
وي دي تل هم پــه رحمت کي — ستا له دره پــــه قیامت کي
بـیـا ملا چي د شــــــهور دئ — چي دې فن له په ظـــهور دئ
غواړي اې طالـبه ځــــوانه — تل دُعا ســــــــــتا له زبانه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

" شهور" په جنوبي وزیرستان کي د سرواکی (Sarwakai) تحصیل د یو کلي (ځای) نوم دئ. د محسودو قبیلې د (شمن خېلو) ښاخ ته عام خلک ( شهور شمن خېل) وایي. د پښتون ژغورني غورځنګ بنسټ ایښوونکی مشر منظور پښتین په همدغه شهور کي په کال ۱۹۹۴ع زیږېدلی دئ. خو په پورتنیو بیتو کي د راغلي" شهور ملا" پېژندنه نوره څېړنه غواړي.

د نسخي کاتب" محمد ملک ملېزی" نومېږي او دغه نسخه ئې د  بزرګي (محرم) د میاشتي په اوولسمه د دوشنبي په ورځ سنه ۱۲۱۲ هـ ق کي په " موضع اخګرام" کي بشپړه کړې ده. دده خپل عبارت داسي دئ :

" تمت دسخط محمد ملک ملیزی موضع اخګرام په میاشته ده به زرګه کِه په ول سمه ورځه ده دوشنبه کښ تمام شه کتابه ۱۲۱۲

ځما په خط کښ نظر مه کړه

زړه مِ غمژن دی خطائی به پکښ وینه".

دغه کال (۱۲۱۲هـ ق = ۱۷۹۷ع) پر لوی افغانستان باندي د سدوزي شاه زمان د پاچهی پنځم کال دئ.

اخګرام د خیبر پښتونخوا په دیر (dir) ولسوالي کي د یوه ځای نوم دئ. دا ولسوالي په شمال کي له چترال او په ختیځ کي له سوات سره ګډه پوله لري. دا ټولي سیمي د افغانستان د پامیر په جنوب کي پرتي سیمي دي او له همدې اسیته ئې ( کوهستان) هم بولي.

لکه یادوَنه چي مي دمخه هم کړې ده، د رسالې موضوع تجوید دئ. د رسالې په سر کي ئې یو وار بې له حرکاتو څخه د الفبې توري راوړي دي، بیائې له حرکاتو( فتحه، ضمه، کسره) سره یوځای راوړي دي، وروسته ئې له تنوین، ساکن نون، مدّ او اشکال سره مل لیکلي دي. تر هغه وروسته ئې د پښتو توري په مفرداتو او مرکباتو کي په نظم ښوولي دي. مثلاً د (ټ) توری ئې داسي ښوولی دئ :

**پــــــته کوټه ده      پـکښي ټـوټه ده**<br>
**لکـــــــه وټه ده      ښـه پي غوټه ده**

دغي تشریح ئې شپاړس مخه نیولي دي. وروپسي اصلي رساله تر ثنا و دوعا وروسته داسي پیل کیږي :

**پس لـه یــــاده د ســــبحانه      چي رحـــمان رحیم باله شي**<br>
**او له درود د مصــــــطفی نـه      چي مقتدا ســـلیم وایه شي**<br>
**او له نــــعت د آل مجتبی نه      چي پـېـشوا حـلیم ستایه شي**<br>
**او له بخښشه د هـــــــرچانه      چي لـه خدایه نـه، ښـــایه شي**

*********

**ا ء هـ ګوره ای ځـــوانـه      ع او ح واوره له مـــــانه**<br>
**غ او خ واوره پـــه شــــمار      شپږ حـروف دي د اظهار**

مسمی دي دا حروف په اظهار سره ځکه چه دوی دي سبب له پاره د اظهار د نونین یعني ظاهرونکي دي نون ساکن او تنوین لره. نون ساکن هغه نون دی چه نه وي وله حرکت چه زور، زېر، پیخ (پیښ) دی. لکه اَن  شه. او تنوین یو ساکن نون دی چه وایه شي په ادا د دوو حرکاتو د یو حرف کښ لکه:

اً اٍ اٌ."

د رسالې پای داسي دئ :

**"ضابطه خلاصه کوتاه شوه      په قانـــون د رمز ادا شوه**<br>
**په حـــساب کي ئې بیتونه      د لزت شـــوه دري حرفونه**

یعنی قلیل اللفظ او کثیرالمعنی شو په طور د رمز سره او ابیات په حساب د (ز)، د (ل)، د(ت) سره دي چه (ز) اووه، (ل) دېرش، (ت) څلور سوه نو شو اووه دېرش له پاسه څلور سوه او تاخیر د (ز) په لام باندي په بیت کي له پاره د خاصیت د معنی دی پکښ او تقدیم په حساب کښ له وجهِ د مرتبې دی ځکه چه (ز) احاد او لام عشرات او (ت) مآت او اُحاد مقدم په عشراتو او عشرات په مآتو باندي ـ الخ"



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

(یادوَنه): په اصل نسخه کي ز، ل، ت په سره رنگ لیکل سوي دي خو ما په قوسینو کي ونیول. (م.هـ)

ددې نسخې تر دې لنډې پېژندني وروسته باید وویل سي چي زما د معلوماتو له مخي د پښتو تجویدونو په لړ کي دا نوې رساله ده. که ئې نوري نسخې وموندل سي، ښایي د لیکوال او ناظم په باب ئې زیات څه تر لاسه سي. سمدلاسه په همدې لیکنه د پښتو تجویدونو تاریخچې ته یوه بله اضافه هم ورولوېږي.

آشاوا ــ کاناډا
۱۲ دسمبر ۲۰۱۸ع


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ